**د استوګنې مرکز (د مهاجرینو کمپ) مشتری – که ستاسو مرکز وتړل شي، دا کار وکړئ**

مونږ باید د استقبال مرکزونه وتړو, ځکه چې د مرکزونو د مشتریانو شمېر په څرګند ډول کم شوی دی. د مشتریانو شمېر کم شوی دی ځکه چې د پناه غوښتونکي او د عارضي پناه غوښتونکو شمېر کم شوی دی، او همدارنګه د استوګنې مرکزونو مشتریان ښارونو ته انتقال شوي دي. له دې امله، موږ نور د پخوانیو میاشتو په پرتله همغه شمېر د استوګنې ځایونه نشو ساتلی

**که تاسو باید له خپل اوسني ځایه کډه وکړئ، ستاسو سره د استوګنې مرکز مرسته کوي**

ستاسو د استقبال مرکز تاسو او د مرکز ټولو پیرودونکو سره په جلا توګه اړیکه نیسي. د استوګنې مرکز به تاسو ته ووایي, کله باید خپل اوسنی استوګنځی پریږدئ او څنګه کولی شئ راتلونکي لپاره د ژوند ځای تنظیم کړئ. تاسو کولی شئ خپل وضعیت د استوګنې مرکز د کارکوونکو سره وڅیړئ.

**د راتلونکې لپاره د استوګنې تنظیمولو لپاره انتخابونه**

**1. کورني ښارونه**

- تاسو باید د کورني ښار لپاره غوښتنه وکړئ که چیري,
  - که تاسو عارضي پناه اخیستي وي او یو کال په فینلینډ کې پرته له وقفې ژوند کړی وی،
  - کله چې تاسو د کورني ښار حق ترلاسه کړئ،
  - تاسو کولی شئ چې خپله د اوسیدو ځای وټاکئ او استوګنځی یې په خپله توګه تنظیم کړئ

  که تاسو اوس مهال د استوګنې مرکز لخوا ورکړل شوې کرایې کور کې اوسئ، نو د استوګنې مرکز څخه پوښتنه وکړئ که تاسو ته د کرایې تړون د انتقالولو اجازه ورکول کیږي. که تړون انتقالیږي، نو تاسو کولی شئ د کورني ښار حق ترلاسه کولو وروسته خپل اوسنی کور کې پاتې شئ

  - تاسو به د فینلینډ د کډوالۍ په توګه هماغه حقونه او خدمات ترلاسه کولي شي چې د فینلینډ اوسیدونکو ته ورکول کیږي

  ستاسو حقوق د کمپ د اوسیدنکو به مقایسه باندې دیردي.

  - تاسو نور د استوګنې مرکز مشتری نه یاست
  - د استوګنې مرکزونو کې بدلونونه به تاسو باندې هیڅ تاثیر نلري
  - تاسو کولي شي د (کیله) دفتر څخه د ژوند او استوګنې مرستې غوښتنه وکړئ. د خپلې مالیې پلان جوړولوکې تاسوکولي شي د مرستې لپاره د استوګنې مرکز څخه پوښتنه وکړئ

- لطفاً په یاد ولرئ چې د کډوالۍ ترتیباتو ته باید وخت ورکړل شي. ژر تر ژره خپل استوګنې مرکز سره اړیکه ونیسئ، ترڅو ستاسو وضعیت وڅیړل شي او مخکې لاړ شي

- وکړو معلوماتو دفتره-Digiخخه د کورني ښار لپاره غوښتنه وکړئ

لارښودونه د عارضي پناه اخيستونکو لپاره: dvv.fi/ohjeita-ukrainasta-saapuville

لارښودونه د نړيوال پناه اخيستونکو لپاره: dvv.fi/kotikunta

- د استوګنې مرکز کارکوونکي به تاسو سره د کورني ښار د غوښتنې په چارو کې مرسته وکړي

- تاسو کولی شئ د ټیلیفون له لارې او یا د ایمیل له لارې به اورکرايني , روسي, فینلینډي او انکلیسي ژبو سره هم مرسته ترلاسه کړئ

- تاسو کولي شي چي د مهاجرینو ریاست ته د اورکرایني خدماتو شیمره 0295790605 د رسمي ورځو له خواه 08:30-12:00 تماس ونيسي.

- تاسو به دي برېښنا لیك کي ایمیل استولي شي. migri@migri.fi

خپل لیك کي د موضوع به برخه کي ولیکي (د اوسیدو خاي) دا ستاسو د ایمیل پروسس کولو کي مرسته کوي خپل برېښنا لیك د محفوظ ایمیل لیږلو خدماتو له لاري ولیږي Securemail.migri.fi

که تاسو د نړیوال خوندي توب لپاره غوښتنه کړي وي او ستاسو د غوښتنلیك په اړه مثبته پریکړه تر لاسه کړي تاسو کولي شي د کور ښاروالي لپاره غوښتنه وکړي په دي پاڼه کي نور معلومات ولولي Kuntaan muuttaminen.

**2. خصوصي استوګنه**

- که تاسو ښار ته کډه کولوته یا د استوګنې مرکز نه وتلو اراده ولرئ، تاسو کولی شئ چي په خصوصي توګه د استوګنې تنظيمات وکړئ. موږ به د اوسیدو لګښتونه نه پوښوو

- که تاسو په خصوصي استوګنه کې اوسئ، تاسو به د خپل نږدې استوګنې مرکز څخه خدمات ترلاسه کړئ

د خصوصي استوګنې په اړه نور معلومات د مهاجرت اداري ويب سايټ کې ولولي

migri.fi/asuminen

migri.fi/majoittuminen-yksityismajoitukseen

**3. بل استو ګني مرکز ته کډه کول**

که تاسو نه غواړئ چي ښار ته کډه وکړئ یا په خصوصي استوګنه کي اوسئ، موږ به ستاسو لپاره د هغه استوګنې مرکز څخه ځای ترتیب کړو چي ځای شتون لري. تاسو خپله د استوګنې ځای نه ټاکئ

موږ ممکن نه شو کولی چې تاسو ته د نږدې سیمې استوګنې مرکز ځای ورکړو. هغه ځای چې تاسو ته وړاندې کیږي، په دې پورې اړه لري چې آیا په نږدې مرکزونو کې ځای شته یا نه

**ډېر شمېر مشتریان کولی شي د کورني ښار لپاره غوښتنه وکړي**

د مرکزونو د شمیر د کمولو په پریکړه کې، موږ دا حقیقت په پام کې نیولی چې د 2025 کال په اوږدو کې 2200 خلک د استوګنې په مرکزونو کې ژوند کوی، کله چې د کمپ فعالیت ودریږی بیا که مشتری وغواړی کولی شي په فنلینډ کې د استوګنې حق لپاره غوښتنه وکړی.

**بندیدونکي د استوګنې مرکزونه**

قراردادونه د 1 مارچ 2025، 1 اپریل 2025 او 1 جولای 2025 پورې پای ته رسی.

**دغه مرکزونه به د ۲۰۲۵ کال په جون کې خپل فعالیت پای ته رسوي**

- د کیمي د استو ګنې مرکز، هیم کییر شرکت
- دپیکسهمکی د استوګنې مرکز، کوتوکونتا شرکت
- د وارکاوس د استوګنې مرکز، کوتوکونتا شرکت
- د یروینپا د استوګنې مرکز، لونا شرکت
- د پوروو د استوګنې مرکز، لونا شرکت
- د ستاکونتا د استوګنی مرکز، ستاکونتا د سره میاشت موسسه
- د واسا د استوګنی مرکز، د اوسټروبوتنیا مهاجرت مرکز شرکت
- د کایانی د کم عمره ځوانانو واحد، بابندو شرکت

**دغه مرکزونه به د سپتمبر ۲۰۲۵ کال کې خپل فعالیتونه پای ته رسوی**

- د وانتا د اپارتمان پر بنست د استوګنې مرکز، لونا شرکت
- د لنسی اوسی ما اپارتمان کې د استوګنې مرکز، لونا شرکت
- د لیکسا د استوګنی مرکز، کوتوکونتا شرکت
- د ولکیاکوسکي د استوګنی مرکز، کوتوکونتا شرکت
- د فورسا د استوګنی مرکز، کوتوکونتا شرکت

د یمسا د استوګنی مرکز، کوتوکونتا شرکت

د ریهیمکی د استوګنی مرکز، کوتوکونتا شرکت

د کایانی د استوګنی مرکز، بابندو شرکت

د احویمان استوګنی مرکز، د فنلند د سره میاشت موسسه

**دغه مرکز به د ۲۰۲۵ کال په ډسمبر کې خپل فعالیت پای ته رسوی**

د اوراوان د استوګنې مرکز، د اوسټروبوتنیا مهاجرت مرکز شرکت

**دغه مرکزونه به د 2026 په فبروري کې خپل فعالیت پای ته رسوی**

د یوینسو د استوګنې مرکز، کوتوکونتا شرکت

د کووپیو د استوګنی مرکز، کوټوکونتا شرکت

د میکیلي د استوګنی مرکز، کوټوکونتا شرکت

د رووانی یمی د استوګنی مرکز، کوټوکونتا شرکت

د تمپری د استوګنی مرکز، کوټوکونتا شرکت

د هیمینلینا د استوګنی مرکز، کوټوکونتا شرکت

د لحتی د استوګنې مرکز، کوټوکونتا شرکت

د یووسکیوله د استوګنی مرکز، کوټوکونتا شرکت

**د ژبې نسخې**